# مسیر
ورځپاڼه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
سه شنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۱۳مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر څلورمه | دویم کال| ۲۹٤یمه ګڼه


خبره
۴ مخ




## د سولې لپاره د خلیلزاد له درېیم سفر سره جوخت؛

# ټرمپ له عمران خانه غوښتي چې طالبان د سولې خبرو ته حاضر کړي


۳

## سوله او د امریکایي اړو د منلو لپاره نوې هڅې
۲ مخ

## د افغانستان اوبه او د پاکستان زهر
۲ مخ

## شخصي امنیتي شرکتونه په افغانستان کې څه کوي؟
۳ مخ

## په پکتیکا کې ۱۵۳ ښوونځیو ته ودانۍ جوړېږي



د پکتیکا د پوهنې ریاست چارواکي وايي، په دغه ولایت کې د ٦۱۲ میلیونو افغانیو په لګښت ۱۵۳ ښوونځیو ته ودانۍ جوړېږي.

د دغه ولایت د پوهنې رییس محراب الدین شفق وویل چې یاد ښوونځي به د ولایت په مرکز ښرنه او ۱۸ ولسوالیو کې جوړ شي.

نوموړي زیاته کړه چې پر دغو ښوونځیو ٦۱۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي چې د جوړېدو چارې به یې د دوو کلونو په موده کې بشپړې شي.

دغه راز په پکتیکا کې د ولسي تړون پروګرام ولایتي مسوول محمد شفیق شپون وویل چې دغه ښوونځي به ۹۱۲ درسي خونې ولري چې تر ډېره به د زده کوونکو د سرپناه ستونزه ورسره هواره شي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې څو ځلې د پکتیکا ښوونکو او زده کوونکو د ښوونځیو د ودانیو د نشتون له امله شکایتونه کړي دي.

## د ناټو سرمنشي: افغانستان ته خطر د ناټو ټولو غړو هېوادونو ته خطر دی

د ناټو سرمنشي وايي، د افغانستان پرېښودل، د ناټو لپاره په دغه هېواد کې له پاتې کېدو څخه ډېر لګښت غواړي.

نوموړي په افغانستان کې د ګڼو ننګونو او په وروستیو میاشتو کې د ناټو متحدینو مرګ ژوبلې ته اشاره وکړه او ویې ویل: «د ناټو لپاره خورا مهمه ده، څو په افغانستان کې خپل شتون ته دوام ورکړي».

نوموړي په افغانستان کې خطر د ناټو غړو هېوادونو لپاره خطر وباله او ویې ویل چې افغانستان له مالي او انساني اړخه ناټو ته زیات اهمیت لري.

هغه زیاته کړه: «په وروستیو میاشتو کې د ناټو متحدینو ته په افغانستان کې زیاته مرګ ژوبله اوښتې ده».

د ناټو یاد لوړپوړي چارواکي زیاته کړه، که ناټو افغانستان پرېږدي، له شک پرته طالبان راستنېږي او په دغه هېواد کې به خپل حضور پیاوړی کړي.

نوموړي وویل: «له افغانستان سره مرسته، د ناټو غړو هېوادونو سره مرسته ده».

د ناټو سرمنشي په افغانستان کې د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل چې افغانستان کې د جمهوري ریاست ټاکنو ترسره کول ډېر مهم دي، خو دا چې څه مهال ترسره شي، جلا موضوع ده.

نوموړي زیاته کړه، پارلماني ټاکنو کې له ترلاسه شویو تجربو څخه باید د ولسمشرۍ په ټاکنو کې هم ګټه واخیستل شي .

هغه د ولسمشرۍ ټاکنو د امنیت ټینګښت خورا مهم وباله او ویې ویل چې ناټو غواړي ډاډ ترلاسه کړي چې افغان امنیتي ځواکونه د جمهوري ریاست د ټاکنو امنیت په سمه توګه ټینګولی شي.

## د اردو ۲۸۰ لوړپوړي افسران تر عدلي تعقیب لاندې دي



۵ مخ

## جاپان، افغانستان را در بخش صحت ۹،۱ میلیون دالر امریکایی کمک می کند



جاپان، افغانستان را در بخش بهبود صحت کودکان و مادران، ۹،۱ میلیون دالر امریکایی کمک می کند.

قرارداد این کمک بدون باز پرداخت، دیروز میان متسوجی سوزوکاتی سفیر جاپان مقیم کابل و آدیل خضر نماینده صندوق وجهی ملل متحد برای کودکان (یونیسف) در افغانستان، در حضور داشت داکتر فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه افغانستان به امضاء رسید.

وزیر صحت عامه افغانستان، در این مراسم گفت که از این کمک برای ۱،۲ میلیون کودک نوزاد واکسین های دوران طفولیت؛ برای دو میلیون مادر باردار واکسین تیتانوس؛ و برای ۱۰ میلیون کودک زیر پنج سال واکسین ضد فلج تهیه داده می‌شود. موصوف ضمن سپاس از این مساعدت جاپان گفت که با استفاده از این پول؛ در بخش های یادشده، در مرگ و میر مادران و کودکان در افغانستان کاهش قابل ملاحظه رونما خواهد شد. سفیر جاپان در مراسم یادشده گفت، خوشحال است که جاپان برای بهبود صحت مادران و کودکان با افغانستان کمک می کند.

وی افزود: «کودکان گنجینه‌ای هستند که از آینده افغانستان پشتیبانی می‌نمایند، آنها امید ما هستند و ما باید از سلامت کودکان مان مراقبت کنیم، جاپان تاریخ طولانی همکاری برای اقدامات علیه بیماری‌های ساری در افغانستان دارد.»

موصوف تطبیق برنامه واکسین را جهت پیشگیری از امراض ساری خواند و اظهار امیدواری کرد که به زودی افغانستان، به یک کشور مصئون از نگاه صحت برای کودکان مبدل شود.




دریـــځ

## سوله او د امریکایي اډو د منلو لپاره نوې هڅې

د امریـکا او طالبانـو ترمنځ د مخامخ خبرو په لړ کـې زلمي خلیلـزاد خپل دریم سفر پیل کړی چـې د افغانسـتان پـه ګډون به څـو هېوادونو ته ولاړ شي او پـه قطر کـې بـه لـه طالـب استازو سره هـم وګـوري. کـه لـه یـوه اړخـه د سـولې د خبرو دوام هیلـه زیاتوي، له بلـه اړخه امریکایي چارواکـي پـه افغانسـتان کـې د خپلـو ځواکونو د حضـور پـر دوام ټینګار کـوي. د امریـکا دفاع وزیـر پـه خپلـو وروسـتیو ځرګندونـو کـې ویلي، دا سـمه ده چـې امریـکا غـواړي پـه افغانسـتان کـې جګـړه ختمـه کـړي، خـو د خپلـو ځواکونـو د ایسـتلو لپـاره هېـڅ پـلان نـه لـري. طالبانـو بیـا دغـو خبرو تـه غبرګـون ښـودلی او ویلي یـې دي چـې د سـولې د خبـرو لپـاره یـې مهـم شرط د بهرنیـو ځواکونـو وتـل دي. طالبانـو پـه یـوه اعلامیـه کـې ویلي چـې امریکایـي پوځیان او جنـرالان لـه افغانسـتانه لـه وتلـو پرتـه بله لار نه لـري.

کـه د افغانسـتان د جګـړې پـر لاملونـو بحث کېـږي او بیا پـه ځانګړي ډول لـه ۲۰۰۱ ز کال وروسـته د پیـل شـوې جګـړې، نـو ډېـر لاملونـه شـته، خـو تـر ګـردو بنسـټیز او لوی لامـل یې د امریکایـي ځواکونـو حضـور دی. اوولـس کالـه وروسـته هـم د سـولې پـر وړانـدې اصلي خنډ د بهرنیـو ځواکونـو حضـور ګڼـل کېـږي. اوس افغانـان تـر بـل هـر وخـت ډېـر سـوله غـواړي، طالبـان منـي، د طالبانـو ډېـر شرایـط منـي، په اسـاسي قانـون کـې بدلـون منـي، په نظام کې بدلـون منـي او ان د سـولې لپـاره له خپلو ځینو لویـو حقونـو تېرېدلـو تـه هـم تیـار دي. لـه بلـه اړخـه وسـله وال طالبان نور د امـارت او د قدرت د انحصـار خبـره نـه کـوي، خـو بیا هم سـوله نه کېـږي. پـه قطر کـې او لـه هغـه شـوې وړاندې خبـرې او بیـا د طالبانـو لـه دریځـه روښـانه معلومېـږي چـې د امریکایـي ځواکونـو حضور د سـولې پـر وړانـدې اساسـي خنډ دی.

پخـوا هم هڅه شـوې چـې پـر طالبانو امریکایي اډې ومنـل شي. اوس هـم ویـل کېـږي چـې د امریـکا اصلـي موخـه د خپلـو اډو خوندیتـوب دی. دوی لـه طالبانـو سره نـږدې هـر څـه منـي او ان حـاضر دي چـې د افغانسـتان ټـول واک دوی تـه ورکـړي، خـو کـه طالبـان حـاضر شي چـې امریکایـي اډې ومنـي. کـه څه هـم په قطر کـې د شـوو خـبرو اصلـي اجنـډا لا هم پټـه ده، خـو ځینـې سرچینـې وایـي چـې په شـوو خبرو کـې امریـکا غوښـتي څـو خپـل نظامـي حضور پـر طالبانـو ومنـي. امریـکا دا خـبره پټـه هـم نه کـوي او اوس پـه ښـکاره وایي چـې سـوله کـوي، خـو د ځواکونـو د وتلـو پـلان نـه لـري. دغـه راز څـو ورځـې وړاندې هم یـوه لوړپـوړي امریکایي چارواکـي ویلـي وو چـې له سـولې وروسـته به د خپلـو ځواکونـو د حضور په اړه غـور کوي. یعنې دوی د ځواکونـو وتـل د سـولې برخـه نـه ګڼـي. معلومـات دا دي چې طالبـان اډې نه مني، خو امریکایانـو د فشـار لپـاره لـه یـوه اړخـه هوایـي بریدونـه زیـات کـړي او لـه بلـه اړخـه ټرمـپ پاکسـتان ته لیک لېږلی او د مرسـتې غوښـتنه یـې کـړې ده. امریـکا غـواړي اوس د نظامـي فشـار او د پاکسـتان په مرسـته پـر طالبانو اډې ومني.

څومـره چـې جګـړه اوږدېـږي او څومـره چـې د سـولې پـه تـړاو دریځونـه روښـانه کېـږي، مـوږ لا زیـات پوهېدلـی شـو چـې اصلـي جګـړه د امریکایـي ګټـو لپـاره ده. اوس ښـایي امریکا پر طالبـان فشـار راوړي، ښـایي اډې پـرې ومنـي، ښـایي ځینـې طالبـان کابـل تـه راولي، خـو تـر هغـو چـې امریکایـي ځواکونـه وي، مـوږ سـولې تـه نـه شـو رسـېدلی. مـوږ بایـد یـو بـل تـه لاس ورکـړو او د رښـتینې سـولې لپـاره د امریکایـي ځواکونـو وتلـو تـه لاره هـواره کـړو.

# د افغانستان اوبه او د پاکستان زهر

لیکنه: نجیب منلی - لومړۍ برخه:

له څه مودې راهیسې پاکستانی رسنۍ په دې هڅه کې دي چې په افغانستان کې د اوبو د مهارولو هڅې، لکه د شاه توت پروژه چې هند یې د ۲۳۶ میلیونه ډالرو په ارزښت د کابل په سیمه کې د ۱۴۶ میلیونه مکعب متره اوبو د ذخیره کولو په موخه د پلي کولو نیت لري، د افغانستان او پاکستان په روابطو کې د هند د لاسوهنې د یوې بېلګې په توګه عامه اذهانو ته ور وپېژني. د پاکستاني رسنیو دغه په اصطلاح اندېښنې په یوشمېر معتبرو نړیوالو رسنیو کې هم انعکاس مومي او په افغانستان کې یې هم د جنجالي خبرونو تږي ژورنالېستان او رسنۍ په غبرګولو کې ناغېړي نه کوي.

پاکستان هڅه کوي چې خپل ولسونه له دې وډار کړي چې په افغانستان کې د کابل د سیند پر حوزه د بندونو جوړول به د کرښې هاخوا سیمې اغېزمنې کړي او له دې لارې د افغانستان په جګړه کې خپلې لاسوهنې توجیه کوي.

په افغانستان کې هم د ټلوېزیوني بحثونو کارپوهان چې د عیني واقعیتونو پر ځای پر عندي خیالونو ډېره تکیه کوي، کله نا کله پر پاکستان د اقتصادي فشار د وسیلې په توګه د اوبو مسئلې ته ګوته نیسي.

د افغانستان اوبه د یوې سترې ملي شتمنۍ په حیث د هېواد د اقتصادي راتلونکې په اړه یو محوري بحث دی، خو دا موضوع یوه ساده شعاري خبره نه؛ بلکې خورا پېچلي تخنیکي ابعاد لري چې ژور فکر غواړي.

په دې لیکنه کې د افغانستان د اوبو تر یوې سرسري ارزونې وروسته د افغانستان پر ضد د پاکستان د حکومت او استخباراتو د رواني جګړې لپاره د پاکستاني مطبوعاتو هغو ځرګندونو ته اشاره شوې چې ګواکې افغانستان د هند په مرسته پر پاکستان د اوبو وچولو هڅه کوي. دغه راز د افغان سیاستوالو او شنونکو پام د دې موضوع واقعیت او حساسیتونو ته را اړول شوی دی.

**۱ - د افغانستان د اوبو یوه عمومي ارزونه**

افغانستان د اوبو پنځه بېلابېلې حوزې لري چې هره یوه یې ځانګړې تخنیکي، اقتصادي او سیاسي اړخونه لري. د دې لیکنې مرکزي ټکی د کابل سیند او له پاکستان سره د افغانستان د اوبو موضوع ده، خو د مطلب د روښانتیا لپاره به په لنډ ډول هغه نورې څلور حوزې هم یادې کړو:

**۱- د امو حوزه**

د امو د اوبو حوزه په افغانستان او ګاونډ کې پر ۲۲۷۸۰۰ کیلو متره مربع ساحه کې غوړېدلې چې ۳۹ سلنه یې په افغانستان کې ده. د امو سیند ۲۵۴۰ کیلومتره اوږد دی چې ۱۲۰۰ کیلومتره یې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان ګډه پوله جوړوي. په افغانستان کې د امو حوزه له پنځو مهمو برخو: رستاق، خان اباد، کوکچه، کندوز او پنج څخه متشکله ده. د امو سیند ۹۰۰ کیلومتره بستر د کښتیو چلولو وړتیا لري او د یو مهم ټرانزیټي محور نقش لوبولای شي.

د امو څنډو ته پرتې ځمکې په دوامداره ډول د توږل کېدو په حال کې دي، نو د امو د څنډو د استحکام موضوع د هېواد د سترو حیاتي پروژو یوه برخه بلل کېدای شي. د کوکچې پر سیند ۴۵۰ میګاواټه شاوخوا برېښنا په ظرفیت د بند پروژه هم ډیزاین شوې ده.

**۲- د هریرود-مرغاب حوزه**

دا حوزه د هریرود، مرغاب او کوشک رود سیندونو څخه جوړه شوې ده او شاوخوا ۸۰۰۰۰ کیلومتره مربع مساحت لري.

د مرغاب سیند په ۴۰۰۰۰ کیلومتره مربع ساحه کې پروت دی چې د ترکمنستان په شګو کې ورکېږي.

هریرود د بابا له غرونو پیلېږي، ۶۵۰ کیلومتره د افغانستان دننه بهېږي، بیا سل کیلومتره د افغانستان او ایران پوله جوړوي، ورپسې په همدومره اوږدوالي د ایران او ترکمنستان پوله جوړوي او بیا د ترکمنستان له تجن سره په شګو کې ورکېږي.

د هرات په چشت شریف کې د سلمابند د هریرود اوبه ذخیره کوي. دغه بند ۶۴۰ میلیونه مکعب متره اوبه زېرمه کوي او ۴۲ میګاواټه برېښنا تولیدوي.

د هریرود اوبه د افغانستان د ابادۍ لپاره ضروري دي، خو ایران او ترکمنستان هم ترې ګټه اخیستل غواړي.

افغانستان له ایران سره د هریرود د وېش لپاره کوم ځانګړی تړون نه لري، نو ځکه ایران پر هریرود د بندونو او نورو تاسیساتو جوړولو ته د ګواښ په سترګه ګوري.

**۳- د شمال حوزه**

د شمال د اوبو حوزه پر ۷۱۰۰۰ کلیومتره مربع ساحه پرته ده او له څلورو عمده سیندونو: بلخاب، خلم، سرپل او شیرین تګاب څخه تشکیل شوې ده. د دې حوزې اهمیت له دې ټکي ښه څرګندېږي چې د بلخ تاریخي اهمیت د بلخاب له سیند سره تړلی دی.

**۴- د هلمند حوزه**

هلمندسیند د افغانستان تر ټولو ستر او اوږد داخلي سیند دی چې د اسیا په کچه په لسم کتار کې راځي. هلمندسیند ۱۴۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري. د اصلي رود(هلمندسیند) ترڅنګ د دې حوزې مهم سیندونه او رودونه دا دي: ادرسکن، ارغستان، چګای، ناور دښته، فراه رود، خاشرود، خوسپه رود، موسی کلا، سرده او غزني، ترنک او ارغنداب. د هلمند د اوبو شبکې ۲۶۲۰۰۰ کیلومتره مربع ساحه پوښلې ده او د افغانستان په سلو کې څلوېښت کرنیزې ځمکې خړوبوي.

د هلمندسیند په برنۍ برخه کې د اوبو جریان چټک دی. د ځمکو د توږل کېدو له امله په برنۍ سیمه کې ځمکې تخریبېږي او ښکته د کجکي بند کاسه د خړې د کېناستو له امله ډکېږي. تر اوسه د هلمند د حوزې د بېلابېلو رودونو د برنیو برخو (هزاره جاتو، اروزګان، سیاه کوه...) د ځمکو د تخریب د مخنیوي او د اوبو له انرژۍ څخه د استفادې لپاره د اوبو د مدیریت په برخه کې لازم اقدامات نه دي شوي. د سرده بند، د دهلې بند، د کجکي بند او د کمال خان بند په دې حوزه کې د اوبو د تنظیم مهم تاسیسات دي.

د هلمندسیند د تاریخ په اوږدو کې څو واره خپل مسیر بدل کړی چې له ایران سره د پولو په تثبیت کې یې هم کله نا کله سترې ستونزې پیدا کړې دي.

د هلمند د اوبو په اړه د افغانستان او ایران ترمنځ په ۱۳۵۲ ز کال کې یو تړون وشو چې له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د وېش یوازینی حقوقي سند دی.

**د کابل حوزه**

د کابل حوزه چې ۷۷۰۰۰ کیلومتره مربع ساحه یې پوښلې او ورسره تړلي موضوعات د دې لیکنې اصلي بحث دی چې وروسته څېړل کېږي.

**کوچني خوړونه**

د افغانستان د غربۍ جغرافیې او په هېواد کې د اورښت د ټیټې کچې له امله د افغانستان د اوبو یوه د پام وړ برخه کوچنیو محلي خوړونو ته ورځي. د دغو اوبو یوه برخه د مستقیم تبخیر له امله هوا ته ځي، یوه برخه یې په محلي کروندو کې کارول کېږي، یوه کوچنۍ برخه یې د ځمکې لاندې زېرمې تغذیه کوي او یوه برخه یې د لویو سیندونو شبکې ته د ویجاړوونکو سېلابونو په بڼه ورګډېږي. پر خوړونو د اوبو د زېرمه کولو کوچني تاسیسات د افغانستان د اوبو د مدیریت یو مهم بحث دی. پر خوړونو د اوبه خور او د کلیوالي سیمو د څښاک د اوبو لپاره د کوچنیو بندونو جوړول به نه یوازې په محلي سطحه د خلکو د ژوند په ښه کولو کې اغېزمن وي؛ بلکې ترڅنګ به یې په اوږدمهال کې د چاپېریال په ښه کولو کې هم نقش د پام وړ وي. د خوړونو د اوبو سم مدیریت به د افغانستان د اوبو د مجموعي زېرمو په مدیریت کې مهم ځای ولري.

**۲ - له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د کاروني ګډ مسایل**

له تاجکستان او ازبکستان سره د اوبو پر وېش خاصه ستونزه نشته، خو د امو پر بهیر شمال لوري ته د اوبو فشار هم کم دی او لازم استحکامات هم شته، نو سوېل لوري ته د امو د څنډو تخریب د افغانستان لپاره یوه مهمه موضوع ده چې حل یې هم تر ډېره د افغانانو په لاس کې دی. په بدخشان کې د کرنیزو ځمکو نشتون او په ښکتني بهیر کې توپوګرافیک واقعیتونه، (د اوبو له سطحې د افغانستان د ځمکو لوړوالی) د کرنې په برخه کې د امو له اوبو ګټه اخیستنه ستونزمنوي. له دې امله له پورته دوو ګاونډیو سره د اوبو پر سر کومه لانجه نشته. البته که په راتلونکي کې وکړای شو چې د پایپ لاین په مرسته د برې امو یوه برخه اوبه د افغانستان لوېدیځو برخو او حتی ایران ته ولېږدوو، نو ممکنه ده چې شمالي ګاونډیان د دې ډول سترو زېربنایي پروژو مخالفت وکړي.

د شمال حوزې اوبه، تقریباً ټولو پولو ته تر رسېدو د مخه ختمېږي، خو د تاریخ په اوږدو کې ګاونډیو پر دې اوبو چندان تکیه نه ده کړې، نو د هغې په اړه هم د پام وړ ستونزه نشته.

ترکمنستان د هریرود پر بهیر له ایران سره پر ګډه پوله د افغانستان له مشورې پرته د دوستۍ په نامه یو بند جوړ کړی دی (۲۰۰۴ ز کال) چې شاوخوا ۸۰۰ میلیونه مکعب متره اوبه زېرمه کوي. په افغانستان کې د هریرود په مسیر کې د اوبو د زېرمه کولو او کارولو تاسیسات چې (تر ټولو مهم یې د سلمابند دی)، ایران او شاید تر یوه حده ترکمنستان د خپلو منافعو لپاره ګواښ بولي. د دوه اړخیزو او درې اړخیزو توافقاتو نشتون د اوبو پر سر اړیکې یو څه ترینګلې کړې دي، خو د افغانستان د دولت رسمي سیاسي کرښه په دې سیمه کې د افغانستان کورنیو ګټو ته لومړیتوب ورکول دي. د ایران حکومتي مشرانو په وروستیو څو کلونو کې په ښکاره ډول په افغانستان کې د اوبو د مدیریت له تاسیساتو سره خپل مخالفت څرګند کړی او دا وېره شته چې د مخربو، مزدورو وسله والو ډلو پر مټ شته او جوړېدونکي تاسیسات له ګواښ سره مخ کړي. په دې برخه کې د افغانستان حکومت ته په کار دي چې هم له حقوقي اړخه او هم له امنیتي اړخه د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره په جدي توګه لازم تدابیر و نیسي.

د هلمند د اوبو په اړه د ایران او افغانستان ترمنځ دولتي تړون شته، خو په تېرو څلورو لسیزو کې جنګي شرایطو افغانستان دې ته پرې نه ښود چې خپله د اوبو برخه په کامل ډول وکاروي، نو عملاً ایران له خپل حقه زیاتې اوبه درلودې. اوس ایران هڅه کوي چې دا بالفعل وضعیت په خپله نفعه په یو ډول نه یو ډول تل پاتې کړي او حقوقي بڼه ورکړي. دلته هم افغانستان ته په کار ده چې په حقوقي برخه کې د مذاکراتو تکړه ټیمونه ولري او د ځمکې پر مخ د تاسیساتو د خوندیتابه لپاره امنیتي تدابیر ونیسي.

له پاکستان سره تر اوسه د اوبو پر سر کومه رښتینې لانجه نه ده پېښه شوې، خو یو لړ سوء تفاهمات شته چې د دواړو دولتونو تر منځ د بې باورۍ او شک فضا یې رامنځته کړې ده. زهرجن تبلیغات او پر واقعیتونو نه ولاړې اندېښنې د پاکستان له خوا د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې لپاره د پلمې په توګه کارول کېږي.

**دوام لري...**

## وکیلان: له بایومټریک پرته د کارول شویو رایو شمېرل ورته د منلو وړ نه دي

په داسې حال کې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون له لوري د ولسي جرګې د ټاکنو رای شمېرنه روانه ده او د یوشمېر ولایتونو لومړنۍ پایلې هم اعلان شوې، د ولسي جرګې یوشمېر غړي وایي چې له بایومټریک پرته د رایو شمېرنه ورته د منلو وړ نه ده.

د دې جرګې یوشمېر غړو د دوشنبې د ورځې په عمومي غونډه کې غوښتنه وکړه چې باید پاکې رایې له ناپاکو جلا شي؛ ځکه د دوی په وینا، په ټاکنو کې پراخه درغلي شوې ده.

د دې جرګې دوو غړو مولوي موحد او سیدنادرشاه بهر وویل: «له بده مرغه خلکو ته زمینه برابره نه شوه چې د بایومټریک په وسیله رایې استعمال کړي، د کمېسیون له خوا دا دستګاه قصداً خرابه کړای شوې وه. په ځینو ځایونو کې یې پروسه ناوخته پیل کړه او په ځینو ځایونو کې یې په لوی لاس دغسې وغوښتل.»

«بایومټریک او غیر بایومټریک رایې باید تفکیک شي او د بایومټریک په وسیله استعمال شوې رایې باید تایید شي، نه له بایومټریک پرته رایې». د ولسي جرګې غړو همدا شان د هغو کسانو عدلي او قضایي ارګانونو ته د معرفي کولو غوښتنه وکړه چې د دوی په وینا، په ټاکنو کې یې درغلۍ کړې او یا یې هم درغلۍ ته زمینه برابره کړې ده.

د ولسي جرګې په ټاکنو کې د بایومټریک استعمال هغه جنجالي مسئله وه چې د ټاکنو په ورځ یې یوشمېر تخنیکي ستونزې رامنځته کړې او له امله یې کمېسیون اړ شو چې په ځینو مرکزونو کې له بایومټریک پرته د رایو استعمال ته اجازه ورکړي.

که څه هم له ټاکنو وروسته د ټاکنیزو شکایتونو او د ټاکنو د کمېسیون ترمنځ په دې مسئله جنجال راپورته شو، خو له څو ورځنیو بحثونو وروسته پرېکړه وشوه چې هغه رایې چې د ټاکنیز نوملړ او سټېکر په وسیله له بایومټریک پرته استعمال شوې هم وي، د شمېرلو وړ دي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون تراوسه په څو پړاوونو کې د ۱۸ ولایتونو د ټاکنو پایلې اعلان کړې او ټاکل شوې چې په راتلونکې اونۍ کې د پاتې نورو ولایتونو لومړنۍ پایلې هم اعلان شي.

د ولسي جرګې د دوشنبې د ورځې په عمومي غونډه کې د وکیلانو له بحثونو وروسته د دې جرګې رییس عبدالروف ابراهیمي هم د ټاکنو له کمېسیونه غوښتنه وکړه چې په دې برخه کې عدالت تامین او د خلکو پاکو رایو ته احترام وکړي.

نوموړي وویل: «هغه رایې چې د بایومټریک په وسیله استعمال شوې، افغانانو ته د منلو وړ دي، دا د یوې منل شوې پایلې په توګه خلکو ته د منلو وړ دي، دې مسئلې ته باید د انتخاباتو خپلواک کمېسیون او د شکایتونو کمېسیون جدي پام واړوي».

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، د ټاکنو په ورځ په بایومټریک دستګاه کې ستونزې رامنځته کېدل تخنیکي مسئله وه او دوی نه شي کولای چې له خلکو د رایو حق واخلي.

د دغه کمېسیون مرستیالې ویاندې شیما عالم ازادي راډیو ته وویل چې هر کاندید که د ټاکنو پر پروسه نیوکه لري، د موضوع په اړه دې کره اسناد او شواهد د شکایتونو د اورېدو له کمېسیون سره شریک کړي.

# شخصي امنيتي شرکتونه په افغانستان کې څه کوي؟

بي بي سي پښتو

طالبانو د هغه برید مسوولیت ومانه چې ځو ورځې وړاندې په کابل کې پر برېټانوي امنیتي شرکت جي فور اېس G4S وشو. د دغه شرکت په پنځو کارکوونکو کې چې د دوی پر دفتر د طالب وسله والو د بریدګرو له خوا ووژل شول، یو یې برېټانوی و. جي فور اېس د نړۍ یوه له لویو امنیتي کمپنیو څخه ده چې په کابل کې د برېټانیا سفارت شاوخوا سیمو امنیت ساتي.

له ۲۰۰۱ ز کال وروسته چې د امریکا په مشرۍ ائتلاف په افغانستان کې مېشت شو، د امنیتي شرکتونو کاروبار سره یې ډېره مرسته وکړه.

په وروستیو کلونو کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له لړۍ سره سم د قراردادیانو شمېر کم شو، خو ناامني په افغانستان کې اوس هم جدي ستونزه ده، په زرګونو ناټو سرتېري لا شته او د بهرنیو سفارتونو، پوځي اډو او نادولتي موسسو د امنیت لپاره له وسله والو ساتونکو کار اخیستل کېږي.

په افغانستان کې څومره شخصي امنيتي شرکتونه شته؟

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت وایي، په دغه هېواد کې د حکومت له خوا «د عامه خونديتابه افغان ځواکونه (APPF)» په ډېرو ځایونو کې د امنیت ساتلو دنده پرغاړه لري چې په دې کې د بهرنیو ځواکونو بدرګه کول، ډیپلوماتانو، سوداګرو او نادولتي موسسو ته نور امنیتي خدمتونه برابرول هم راځي.

دا اداره په ۲۰۱۰ ز کال کې د هغه مهال ولسمشر حامد کرزي د فرمان پر بنسټ جوړه شوه چې له یوشمېر رسواییو وروسته یې ټول امنیتي شرکتونه بند کړل.

تر هغه مهاله ډېرو بهرنیانو د شخصي امنیتي شرکتونو قراردادونه درلودل او چارې یې پرمخ بېولې.

شخصي امنيتي شرکت څه کوي؟

د ملګرو ملتونو د یوې کاري ډلې په خبره شخصي امنیتي کمپنۍ لاندېني کارونه ترسره کوي:

١- د ودانیو، بنسټونو، شتمنیو او کسانو وسله واله ساتنه.

٢- له امنیتي او پولیسي سرچینو سره د معلوماتو شریکول.

٣- د امنیتي تدابیرو نیول او پلي کول.

نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د دغه بندیز په اړه او دا چې حکومت دې وکړی شي د دغو شرکتونو پر ځای امنیتي پلان پخپله مخ ته یوسي، اندېښنه څرګنده کړه. بهرني ډیپلوماتان، ډیپلوماټیک حیثیت لرونکې نړیوالې موسسې او پوځي اډې په دې وتوانېدل چې خپل امنیتي چوکاټونه وساتي. د افغان پولیسو روزلو بهیر کې ښکېلې کمپنۍ هم استثنا وګرځول شوې. بهرنۍ امنیتي اداري هم وتوانېدې څو ځانونه د خطر ارزوني شرکت په نامه بیا ثبت کړي. له دې سره ډېرې کمپنۍ وتوانېدې چې د امنیتي سکټور کاروبار کې پاتې شي، نو اوس هم په افغانستان کې بهرني امنیتي شرکتونه فعالیت کوي.

د بېلګې په ډول، جي فور اېس شرکت وايي، په افغانستان کې ۱۲۰۰ کارکوونکي لري او دوی له ۲۰۰۳ ز کال راهیسې فعال دي. نیمایي یې افغانان او نیمایي یې د برېټانویانو په ګډون بهرنیان دي. دوی د برېټانیا پر سفارت سربېره نورو موسسو او ادارو ته هم کار کوي او همدارنګه د افغان ځواکونو په روزلو کې هم ونډه لري.

د ملګرو ملتونو کاري ډلې سرچپا مکلیوډ وایي، دا ډېره ګرانه ده چې په افغانستان کې د فعالو شخصي امنیتي شرکتونو شمېر معلوم کړی.

د امنیتي شرکتونو کاروونکي هېوادونه د ملي امنیت له کبله د معلوماتو له ورکړې ډډه کولی شي. بل لور ته د دغو شرکتونو جوړښت هم کله نا کله مغلق وي او یوه شرکت ته نور فرعي قراردادیان هم کار کوي.

په افغانستان کې د جګړې د شخصي کولو غوښتنې هم له څه مودې راهیسې راپورته شوې.

د پخواني بلک واټر شخصي امنیتي شرکت مشر اېریک پرنس څو ځلې په خپلو مرکو او وړاندیزونو کې د هغه ځواک په اړه جزیات ورکړي چې د ده په ګومان هغه څه ترلاسه کولای شي چې په تېرو ۱۷ کلونو کې سلګونو زرو امریکایي او ناټو ځواکونو ترلاسه نه شوی کړای.

اېریک پرنس ډېره هڅه کوي چې د افغانستان جګړه د ده شخصي امنیتي کمپنۍ ته وسپارل شي.

اېریک پرنس یو کال مخکې هغه وخت چې ولسمشر ټرمپ واک ته ورسېد، دغه طرحه وړاندې کړې وه چې په افغانستان کې دې د چارو واګې شخصي امنیتي کمپنیو ته وسپارل شي، خو ولسمشر ټرمپ دې طرحې ته پام ونه کړ.

په ۲۰۱۲ ز کال کې تر ۱۰۰ زرو ډېر وسله وال او نا وسله وال قراردادیان د امریکا د دفاع وزارت له خوا په افغانستان کې په کار ګومارل شوي وو. هغه مهال ۲۰ زرو شخصي امنیتي شرکتونو فعالیت درلود.

د ۲۰۱٦ ز کال په پای کې د شخصي امنیتي قراردادیانو شمېر تر ۱۰۰۰ کم شو، خو وروسته له هغه بېرته لوړ شو.

د امریکا د دفاع وزارت په وینا د ۲۰۱۸ ز کال اکتوبر کې په افغانستان کې نږدې ۲۵۰۰ وسله وال شخصي امنیتي قراردادیان وو. ډېری د درېیمګړو هېوادونو وګړي دي چې نه افغانان دي او نه هم امریکایان.

دمګړۍ په افغانستان کې د امریکا د دفاعي قراردادیانو له ۲۵ زرو څخه، شاوخوا لس زره یې امریکایي وګړي دي.

## د سولې لپاره د خلیلزاد له درېیم سفر سره جوخت؛

# ټرمپ له عمران خانه غوښتي چې طالبان د سولې خبرو ته حاضر کړي



په داسې حال کې چې امریکا په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره هڅې پیل کړې، تازه د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په یوه استول شوي لیک کې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان څخه په افغان سوله کې د مرستې غوښتنه کړې ده.

سرچینې زیاته کړې چې ټرمپ عمران خان ته په استول شوي لیک کې له هغه غوښتي چې افغان طالبان د سولې خبرو ته حاضر کړي.

د پاکستان لومړي وزیر ویلي، د ټرمپ دغه لیک یې ترلاسه کړی او دا یې یو مثبت ګام بللی دی.

هغه زیاته کړې، د امریکا د ولسمشر ټرمپ د غوښتنې په ځواب کې به له هغوی سره بشپړه همکاري کوي.

نوموړي ویلي، امریکا او پاکستان سره په اړیکو کې دي او په دې لړ کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد هم پاکستان ته روان دی.

هغه ژمنه کړې چې پاکستان به په افغان سوله کې خپل مثبت رول ته ادامه ورکوي.

له دې سره سم د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د پاکستان او افغانستان په ګډون اتو هېوادونو ته خپل درېیم سفر پیل کړی.

د امریکا د بهرنیو چارو له وزارت څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې خلیلزاد به دا ځل پاکستان، روسیې، افغانستان، ازبکستان، ترکمنستان، بلجیم، متحده عربي اماراتو او قطر ته سفرونه کوي. خبرپاڼې زیاته کړې، هغه به له ولسمشر غني او نورو افغان حکومتي او غیر حکومتي شخصیتونو سره ګوري او د افغان سولې د راتګ په اړه به خپل نظریات له دوی سره شریکوي. خلیلزاد به دوی ته ډاډ ورکړي چې امریکا د افغان سولې په برخه کې جدي ده او دوی ته هم په کار ده چې په دې برخه کې په جدي توګه همکاري وکړي.

ټاکل شوې چې خلیلزاد به د دغه سفر په ترڅ کې لومړی روسیې ته لاړ شي او د دغه هېواد له چارواکو سره به د افغانستان د روانې جګړې پر سر خبرې وکړي.

د یادونې وړ ده چې د خلیلزاد دغه اتلس ورځنی سفر چې د ډسمبر له ۲مې پیل شوی، د دې میاشتې تر ۲۰مې به دوام وکړي.

## د روسي خبریال د راپور پر سر تر ناندریو وروسته؛

# د برېټانیا دفاع وزیر له خپلو خلکو غوښتي چې د مشکوکو کړنو په اړه چارواکو ته راپور ورکړي




د برېټانیا دفاع وزیر ګوین ویلیامسون له خپلو خلکو غوښتي چې د دغه هېواد پوځي سیمو ته نږدې له مشکوکو فعالیتونو چارواکي خبر کړي.

نوموړي دا غوښتنه وروسته له هغه مطرح کړه چې د روسیې د یوه دولتي ټلوېزیون کارکوونکی په دې وروستیو کې د برېټانیا یوه ډېر مهم پوځي مرکز ته نږدې لیدل شوی و.

د خپرو شویو راپورونو پر اساس د برېټانیا دفاع وزیر ګوین ویلیامسون وروسته له هغه خبرداری ورکړی چې د روسیې د «یو» دولتي ټلوېزیون کارکوونکي تیمور سیراژیف د بارکشر په ښار کې د برېټانیا ۷۷ پوځي فرقې له څنګه راپور ورکاوه.

دا هغه سیمه ده چې شاوخوا یې اغزن سیمونه لګېدلي او د خلکو ورتګ منعه دی.

تیمور سیراژیف دا ادعا رد کړې چې ګواکې هڅه یې کړې څو دې سیمې ته ننوځي.

د برېټانیا دغه پوځي مرکز له الکټرونیکي او سایکولوژیکي جنګونو سره سروکار لري.

په برېټانیا کې دا خبره داسې وخت راپورته شوې چې د لوېدیځو هېوادونو او روسیې اړیکې وار له مخه په بېلابېلو دلایلو ترینګلې شوې دي.

په اوکراین کې د روسیې لاسوهنې، د امریکا د جمهوري ریاست په ټاکنو او په ځینو اروپایي ټاکنو کې د روسیې لاسوهنو په اړه ادعاوې، پراخې سایبري حملې او په برېټانیا کې د پخواني روسي جاسوس سرګې سکریپال او د هغه د لور مسموول هغه مسایل دي چې له کبله یې له روسیې سره د لوېدیځ اړیکې سړې شوې دي.

د برېټانیا په بارکشر کې د ۷۷ پوځي فرقې شاوخوا امنیتي کمرې ښیي چې د روسیې د یو دولتي ټلوېزیون د لبنان د بېرو مشر تیمور سیراژیف د نومبر په ۲۱مه څو واره هڅه کړې چې دغه پوځي فرقې ته له یوه کمره مین سره چې له موټره عکسونه اخلي او په اشاره غږېږي، ننوځي.

د برېټانیا ډېلي مېل ورځپاڼې راپور ورکړی چې د دغه هېواد استخباراتي مشران په دې اړه څېړنې پیل کړي او د برېټانیا د ټولو پوځي سیمو قوماندانانو ته خبرداری ورکړي چې بیداره اوسي.

د برېټانیا د دفاع وزیر ګوین ویلیامسون له قوله ویل شوي: «موږ خپلې امنیتي اډې او نظامي پرسونل ته جدي پام کوو او که خلک په دې سیمو کې مشکوک فعالیتونه وګوري، باید یې راپور چارواکو ته ورکړي».

سیراژیف وروسته د روسیې «ار. ای. اې» نویستي رسنۍ ته ویلي چې دی او همکاران یې په یوه معمولي ځای کې په راپور ورکولو بوخت وو او کوم پوځي مرکز ته یې د ننوتلو هڅه نه ده کړې.

د برېټانیا دفاع وزیر دغه راز په اکتوبر کې روسیه تورنه کړه چې د یوه منفور دولت په توګه عمل کوي او په خپلو اعمالو به ځان منزوي کړي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### نولسمه ځانګړنه
### خدمت:




**د ماینونو په کرونده کې**

جنرال نورمن شوارتش کُپف وکولای شول چې د خلیج په جګړه کې د نظامي رهبر په توګه خپله وړتیا وښیي. ما مخکې په یوه بل کتاب کې د دغه جنرال د زړورتیا یادونه کړې ده. دی مخکې د یوه داسې پوځ د رهبر په توګه ویتنام ته لېږل شوی و چې هغه پوځ د ټولو رسنیو د طنز سوژه وه، خو له ده غوښتل شوي وو چې هلته خپله وړتیا وښیي. جنرال شوارتس کُپف په بد حالت کې و، خو بیا یې هم وکړی شول چې د خپلو پوځیانو د تلفاتو شمېر ډېر راټیټ کړي. پوځي به چې پر ځمکه ولوېد جنرال به ژر ځان ور ورساوه او هغه به یې د جګړې له ډګره راوایسته، بیا به یې له نورو پوځیانو سره د دوی د روحیې لوړولو لپاره خبرې کولې.

د ۱۹۷۰ز کال د مارچ په میاشت کې یو سرتېری په ماین والوت او ټپي شو. جنرال چې خبر شو په څرخکۍ کې سپور شو او د سرتېرو ځای ته ورغی. هلته د څرخکۍ پرسونل هڅه کوله چې له میدانه ټپي شوي سرتېري وباسي چې په دې وخت کې یو بل سرتېری په میدان کې ولوېد او پښه یې ماته شوه. سرتېری په میدان کې پروت و، درد پرې زور و او چیغې یې وهلې. په دې وخت کې سرتېري پوه شول چې ټول میدان په ماینونو پوښل شوی دی او دوی په میدان کې بند دي.

شوراتس کپف پر دې باور و چې دغه سرتېري ژغورلی شي، ان داسې کار یې وکړ چې د سرتېري پښه هم وژغورل شوه. هغه سرتېری باید آرام پروت وي او جنرال دومره وکړل چې د سرتېري خوا ته ورغی او له چیغو او خوځېدو یې و ایست، شوارتس په دې اړه لیکي:

(ټول میدان په ماینونو پوښل شوی و، زه ورو ورو روان شوم، ځمکې ته مې لیدل چې که په کوم ځای کې راوتی وی، باید پښه پرې برابره نه کېښږدم. پښې مې دومره رېږدېدې چې مجبور شوم په لاسونو یې ونیسم، بلاخره ځان مې سرتېري ته ورساوه، خو دومره سخته راباندې تېره شوه لکه زر کاله چې تېر شوي وي.)

شوارتس کُپف ۲۴۰ پونډه وزن درلود، یو وخت پهلوان و، دی چې هغه ټپي سرتېري ته ور ورسېده، نو هغه یې کلک ونیوه او له خوځېدو یې و ایست. په دې توګه یې د سرتېري ژوند وژغوره او وروسته یې د تخنیکي ټیم په مرسته دا او نور سرتېري له میدانه و ایستل. په دې ورځ چې جنرال کوم کار وکړ دا د اتلولۍ کار و. دغه سړي اتلولي او زړورتیا وښودله، خو زه فکر کوم چې دا کار یې باید اتلولي نه، بلکې خدمت ونومول شي. په هغه ورځ ده د رهبر په توګه یوازې همدا کار کولای شواې چې د خپل سرتېري ژوند وژغوري.

**دې ته تم شئ**

تاسې چې د خدمت نوم اورئ آیا داسې فکر کوئ چې خدمتګار باید د ټولنې د ټیټې طبقې نالوستی او بې مهارته کس وي؟ که داسې وي، نو دا فکر ناسم دی. ځکه خدمت له مقام او منصب سره اړیکه نه لري. خدمتګاري په نظر او لیدلوري پورې اړه لري. تاسې به د خدماتو په برخه کې داسې خلک هم لیدلي وي چې په خدمت هېڅ باور نه لري. تاسې به په اداره کې داسې مامور لیدلی وي چې له مراجعینو سره بد چلند کوي، داسې مامور به مو لیدلی وي چې خلک به ورته قطار ولاړ وي خو دی به د ټیلفون په لیکه ټوکې ټکالې کوي یا به مو په هوټل کې داسې خدمتګار لیدلی وي چې د ډوډۍ د فرمایش اخیستو پر وخت یې بې ادبي کړې وي، دا ټول هغه خلک دي چې په خدمت هېڅ باور نه لري.

لکه څنګه چې په یوه عادي کارمند کې دا توپیر کېږي چې خدمتګار دی که نه، همداسې په رهبر کې هم اسانه توپیر کولای شي. تر ټولو ښه رهبران هغه دي چې د ځان پر ځای د نورو خدمت کول غواړي.

خو په ځان کې د خدمت روحیه څنګه پیدا کولای شو؟ خدمتګار رهبر هغه دی چې:

**۱) نور تر ځان لومړي بولي**

د خدمت لومړۍ نښه دا ده چې انسان نور خلک تر ځان غوره او لومړي وبولي. که دا کار کول غواړئ، نو د نورو خلکو په اړتیاوو او غوښتنو باید پوه شئ، له هغوی سره د مرستې لپاره باید چمتو شئ او په دې باید پوه شئ چې د هغوی غوښتنې مهمې دي.

**۲) د خدمت ډاډ لري**


څوک چې خدمت کوي پر ځان ډېر ډاډه وي. تاسې داسې یو کس وښیئ چې فکر کوي باید د ده خدمت وشي، زه به درته وښیم چې همدا سړی پر ځان هېڅ ډاډه نه دی. مونږ چې له خلکو سره څنګه چلند کوو، دا رابښيي چې مونږ د ځان په اړه څه فکر کوو. شاعر او فیلسوف اریک هوکر په دې اړه وایي:

(مهمه خبره دا ده چې ګاونډیان راته د ځان هومره ګران شي او له نورو سره هغه څه وکړو چې له هغوی یې د کولو تمه لرو. مونږ چې له ځانه کرکه کوو، له نورو به هم کرکه کوو. که ځان زغمو، نو باید نور خلک هم وزغمو. که ځان ښښو، نو نور خلک هم باید وبښو. مونږ چې څومره له ستونزو سره مخ یو، اصلي لامل یې دا دی چې له ځان سره د مینې پر ځای لګیا یو، له ځانه کرکه کوو.)

یوازې هغه رهبران نورو ته روحیه او قوت ورکولای شي چې پر خپل ځان ډاډه وي او حقیقت دا دی چې یوازې هغه رهبران پر ځان ډاډه وي چې د نورو خدمت کوي. **دوام لري...**

# جورج ایچ بوش

حکمت ارین



د جورج ایچ بوش بشپړ نوم جورج هربرټ واکر بوش او د سناتور پرسکاټ بوش زوی دی. نوموړی په ۱۹۲۴ ز کال د جون په ۱۲مه د امریکا په ماساچوسټ ایالت کې زیږېدلی دی.

کورنۍ یې د نوموړي له پیدا کېدو وروسته ګرنوېچ ته لاړه او بوش خپلې لومړنۍ زده کړې په همدغه ځای کې وکړې او په ۱۹۳٦ز کال کې د فلیپس په نامه اکاډمۍ ته داخل شو.

هغه د ښوونځي او پوهنتون په دوره کې خورا ښه مخته روان و. له دې سره سره یې پراخه او ازاده مطالعه هم درلوده. د نوموړي زوی او د امریکا پخوانی ولسمشر جورج ډبلیو بوش یې په اړه په یوه مرکه کې داسې ویلي: «پلار یې هېڅکله هم خوشې نه و ناست، تل به یې چې وخت پیدا کاوه، مطالعه به یې کوله او همېشه به یې پر ګرمو مسایلو له دوی سره خبرې کولې او د ټولو نظر ته یې ډېر احترام درلود. بوش وایي، پلار یې نه یوازې دا چې یو ښه مشوره ورکوونکی و؛ بلکې ښه غوږ نیوونکی هم و او هرې ښې او بدې خبرې ته به یې غوږ نیوه. په خبره کې نه لوېدو، خو د خبرو په پای کې به یې لومړی ستا پر خبرو لنډه تبصره وکړه، ښه او بد به یې درته جلا کړل او وروسته به یې خپله ښکه مشوره درکوله، نوموړی ښه پلار و.»

د بوش کورنۍ تر ډېره د امریکا په سیاست کې دخیله وه او پلار یې له ۱۹۵۳-۱۹٦۳ ز کلونو پورې د امریکا د سنا جرګې غړی و او دواړه زامن، جورج بوش یې د امریکا ولسمشر او بل هغه یې د فلوریډا ایالت والي و.

بوش چې له فلیپس اکاډمۍ فارغ شو، ۱۸ کلن و او له فارغېدو وروسته یې د امریکا په هوایي ځواک کې د پیلوټ په توګه دنده پیل کړه او دویم نړیوال جنګ ته داخل شو. هغه په یوه مرکه کې د جګړې په اړه ځینې یادونې کړې. دی وایي: « جنګ و، موږ باید جګړه کړې وای او که مو جګړه نه کوله، نو په خپل هېواد کې دننه وژل کېدو، نو امریکایان باید جګړې ته تللي وای، څو په وقار مړه شوي وای».

نوموړی له څو کلن ماموریت وروسته بېرته پوهنتون ته لاړ او په ییل پوهنتون کې یې په زده کړو پیل وکړ. نوموړي په دغه پوهنتون کې د جمجمې د هډوکو د متخصصینو په نامه د یوې مخفي ټولنې غړی شو چې د ډېرو په باور په دې ټولنه کې د نوموړي عضویت د ده پر شناخت او ارتباطاتو هم اغېز وکړ او له هغه وروسته د نوموړي اړیکې نورې هم پراخې شوې.

د ۱۹۹۴ ز کال په ډسمبر کې یې له باربارا پایرس سره واده وکړ او له هغې د شپږو اولادونو څښتن شو.

د پاولین رابنیسون په نوم زوی یې په ۱۹۵۳ ز کال کې د سرطان له امله ومړ. بوش وایي: «یو وخت مې له خپلې مېرمنې سره خبرې کولې، د زوی د مړینې مو ډېر وخت وتلی و، هغې رانه پوښتنه وکړه، کومه داسې بده خاطره ده چې له یاده دې نه وځي. ما ورته وویل: د زوی مرګ دې دنیا تر ټولو دروند غم او سخت درد لري. مور یې هم په ژړا شوه او وروسته پښېمانه شوم چې ولې مې ورته دا سخت درد ور یاد کړ. له هغه وروسته به مو تر ډېره د هغه د نوم په اورېدو سترګو اوښکې کولې.»

بوش د ریچارډ نیکسون د ولسمشرۍ په دوره کې له ۱۹۷۱-۱۹۷۳ ز کال پورې په ملګرو ملتونو کې د امریکا د سفیر په توګه دنده ترسره کړه او له هغه وروسته یې له ۱۹۷٦-۱۹۷۷ ز کال پورې د امریکا په استخباراتي اداره یا (سي.ای.اې) کې د مدیر په حیث دنده ترسره کړه.

د ریګان د واکمنۍ په دوره کې د ولسمشر مرستیال او په ۱۹۸۸ ز کال کې ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند شو او د ۱۹۸۹ ز کال په جنوري کې یې د امریکا د ۴۱م ولسمشر په توګه د وفادارۍ لوړه وکړه.

مایکل دوکاکیس د بوش پیاوړی رقیب و او د امریکا له ډیموکراټ ګوند څخه د نوموړي مقابلې ته راوتلی و. نوموړی واک ته له رسېدو سره سم د لبنان له بحران سره مخ شو او په دې وخت کې یې د ډېرو امریکایانو په باور د امریکا او خپل ځان موقف ښه ثابت کړ.

بوش په ۱۹۹۱ ز کال کې د ځینو غربي، افریقایي او عربي هېوادونو په ائتلاف کې داخل او د یاد ائتلاف مشري یې پر غاړه واخیسته او له عراق نه د کویټ د لاندې کولو پر وړاندې د عمل میدان ته راووت. هغه وکولی شوی چې کویټ وژغوري، خو د ځینو مسلمان کارپوهانو په باور د نوموړي دغه کار په اسلامي نړۍ کې د ډېرو ستونزو لامل شو. له عراق سره یې اړیکې خرابې شوې او له هغه وروسته په عربي نړۍ کې درزونه ډېر شول، خو له صدام حسین او معمرالقذافي پرته نور ټول عرب هېوادونه د امریکا تر ژور اغېز لاندې راغلل.

بوش د امریکا له پیاوړو سیاستمدارانو څخه و، خو د ځینو امریکایي کارپوهانو په باور د هغه بهرنی سیاست ښه و، خو په کورني هغه کې یې ډېرې ستونزې درلودې.

د چارو شنونکی استاد مایکل بویینر وایي: «بوش د امریکا د ۴۱م ولسمشر په توګه خپله دنده ښه مخ ته یوړه، بریالی ولسمشر و، پیاوړی بهرنی سیاست یې درلود او له همدې کبله یې په نړۍ کې ډېر شهرت هم درلود؛ ځکه چې بهرنی سیاست یې ډېر ښه او پیاوړی و، خو د ضعف نقطه یې په کورني سیاست کې وه. هغه بریالی نه شو چې کورنی سیاست ښه جوړ کړي، ښه به نه وي ډېر یې جزیاتو ته لاړ شم، خو د سپین او تور ترمنځ تفاوت د نوموړي د ولسمشرۍ په دوره کې یو څه ډېر محسوسېده چې دا ښه کار نه و او ستونزې یې ډېرولې، خو په وروستیو کې یې بیا یو څه دا ستونزې راکمې کړې.»

بوش د شرقي بلاک پر وړاندې یو له مهمو او کلیدي کسانو څخه شمېرل کېده؛ ځکه کله چې نوموړی له رونالډ ریګان سره ولسمشریزو ټاکنو ته راووت، نو له هغه یې ماتې وخوړه، خو ریګان ورته وړاندیز وکړ چې د هغه د مرستیال په توګه ورسره دنده تر سره کړي؛ ځکه ریګان د بوش په څېر بل ستراتېژیست او غوره سیاستمدار البته د شرقي بلاک پر وړاندې نه شواې موندلی، نو ځکه یې ده ته دا وړاندیز وکړ.

کله چې نوموړی واک ته ورسېد، د پخواني شوروي اتحاد په پاشلو کې یې مهم رول ولوباوه او له المان څخه یې ښکاره ملاتړ اعلان کړ. نوموړي په ۱۹۹۰ ز کال کې د واحد ملت په توګه له المانه دفاع وکړه او دا د نوموړي هغه کار و چې المان یې اوس هم په ډېر احترام نوم اخلي.

هغه په خپل سیاسي بصیرت او ځیرکتیا سره د ګورباچوف باور لاسته راوړ او د ۴+۲ ترمنځ یې مذاکراتو ته لاره هواره کړه چې بالاخره د یو خپلواک هېواد په توګه یې د المان په ګټه مذاکرات پای ته ورسول.

بوش امریکا ته ډېر څه وکړل، په نوره نړۍ کې یې هم یووالي ته کار وکړ، خو اسلامي نړۍ کې یې په رښتیا هم د جنګ زړې وکرل او د ملتونو ترمنځ یې د جګړو او نفرت اور ته لمن ووهله.

نوموړي چې ډېره تکیه یې پر خپله نظامي پیاوړتیا وه، خپله لومړۍ جګړه یې د پانامې پر وړاندې پیل کړه. هغه په ۱۹۹۰ ز کال کې د پانامې د ولسمشر مانویل نوریګا د نیول کېدو امر وکړ او له هغه وروسته یې د اسلامي نړۍ تر ټولو مغرور او پیاوړي ولسمشر صدام حسین ته سترګې برګې کړې. هغه یې په دې بهانه چې ګوندي غواړي کویټ اشغال کړي، تر خپلو لفظي بریدونو لاندې راوست او له هغه وروسته یې د عراق لومړۍ جګړه هم رهبري کړه.

بوش د عراق پر وړاندې ائتلاف جوړ کړ چې ځینې عرب هېوادونه یې هم ملګري شول او د ۱۹۹۰ ز کال په فبروري کې یې پر عراق د برید پلان پلی کړ. هغه نه غوښتل چې د ملګرو ملتونو له ٦۷۸ قطعنامې څخه سرغړونه وکړي؛ ځکه یې د عراق پر لور د خپلو سرتېرو ګړندی تګ یو څه ورو کړ.

هغه له دې جګړې وروسته وویل: «دا بریا یوازې د کویټ لپاره نه، بلکې د ائتلاف د ټولو شریکانو لپاره، د نړیوالې ټولنې، ټول انسانیت او د بین الدوله د حقونو بریا ده.»

د کورني ښه سیاست د نه لرلو ترڅنګ د نوموړي د ناکامۍ یو بل لامل دا هم په ګوته کېږي چې د ده په دوره کې د امریکا اقتصاد یو څه زیانمن ځکه شو چې پر جګړو یې ډېر مصارف وکړل.

نوموړی له واک وروسته په خپل کتابتون کې پر مطاله بوخت شو او ژوره مطالعه یې کوله. زوی جورج واکر بوش یې د سترګو پر وړاندې واک ته ورسېد چې د نوموړي په خبره دا یې د ژوند تر ټولو غوره شېبې وې؛ ځکه هغه د یو ښه پلار په توګه پر خپل ځان ویاړ کاوه او د خپلو اولادونو په روزنه کې یې د هېڅ کمي احساس ونه کړ.

سپین ږیری شو، خو د ځینو ښځو له خوا اخلاقي تورونه ور باندې لګېدل. دا په امریکا کې معمول دی چې ډېرې ښځې د لوړپوړو چارواکو له خوا د خپلې جنسي ځورونې ادعاګانې کوي، خو د نوموړي پر وړاندې دا ډول قضیې تر اتو رسېدلې وې.

نوموړی په ۲۰۰۷ ز کال کې د تنفسي ستونزو له امله روغتون ته ولېږدول شو او د همدې کال د جنورۍ په ۱۸مه تر ټولو ځانګړې مراقبتي خونې ته انتقال شو، څو یې ډاکټران تر خپل نظر لاندې ولري.

بوش د امریکا تر ټولو اوږد عمر لرونکی ولسمشر و چې بالاخره د ۲۰۱۸ ز کال د نوامبر په ۳۰مه د ۹۴ کلونو په عمر په روغتون کې ومړ. د نوموړي له مرګ وروسته یې زوی او د امریکا پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش پر خپل ټویټر ولیکل چې دوی یانې د پلار اولادونو یې یو مهربان او ښه لارښود او د امریکایانو یو غوره رهبر له لاسه ورکړ.

ټرمپ هم د نوموړي پر مرګ خواشیني څرګنده کړه او زیاته یې کړه: «امریکا یو ستر انسان له لاسه ورکړ، هغه به بیا هېڅکله واشنګټن ته را ونه ګرځي. نوموړی به زموږ ډېر ویادېږي، هغه د هېرېدلو وړ نه دی. نه یوازې زما او د هغه د کورنۍ لپاره، بلکې هغه د امریکا لپاره ډېرې لاسته راوړنې لرلې او ټول امریکایان به ډېر پسې خپه شي.»

د نړۍ په کچه د ډېرو هېوادونو رهبرانو او نامتو څېرو د نوموړي پر مرګ خواشیني څرګنده کړه او د هغه مرګ یې د امریکا لپاره ستره ضایع وبلله.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵،۹۰ |
| € | ۸۵،۹۰ |
| Rp. | ۵۴۲ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۰،۸۰ |
| £ | ۹۶،۶۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبۍ | 16:30 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه راتلونکي ته هیله من ماشومان وروزو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د ماشومان هیله من روزل رښتیا هم سخت کار دی؟ که مو ماشومان ښه تربیه کړی، ښه راتلونکی به ولري او له بېلابېلو پېښو سره به ښه برخورد وکړي.

د ماشومانو د ښه تربیه کولو لپاره بېلابېلې لارې چارې شته. د اوږد وخت لپاره ستاسې د مثبت او ښه اغېز چې د ماشومانو پر جسمي او روحي پیاوړتیا کې رغنده رول لري، ډېرې بېلګې شته. هغه کسان چې راتلونکي ته هیله من دي، ډېری یې د خپلو شاوخوا کسانو په پرتله سل کاله اوږد ژوند کوي. څنګه کولای شو داسې ماشومان وروزو چې سل کاله ژوند وکړي؟ په دې مقاله کې همدا لارې چارې درښیو.

**۱- شکایت او ګیلې مه کوئ!**

هغې مور ته وګورئ چې خپله پلې تګ کوي او دوه څلور کلن او شپږ کلن ماشومان د زده کړې مرکز ته بیایي. هغه تل ناکراره وي او د تلو په وخت ګیلې او شکایتونه کوي.

د بېلګې په ډول، وایي: څه بېکاره ترافیک دي، امکان نه لري چې په خپل وخت ورسېږم او یا هم دېته ورته نورې منفي جملې وايي چې دا مور د زامنو لپاره تر ټولو بده انګېزه ده.

ماشومان د خپلو والدینو له حرکاتو او روښونو انګېزه اخلي. که تاسې د مور یا پلار په توګه تل له مالي وضعیت او یا هم کار څخه شکایت او ګیلې کوی، لرې نه ده چې همدا کړنه او عادت به پّه راتلونکي کې ستاسې ماشومان هم ولري.

د دې پر ځای چې تل له خپل بد وضعیت څخه شکایت او ګیلې وکړی، پر مثبتو هغو مو فکر او د هغه په اړه خبرې وکړئ. هڅه وکړئ چې ځان ته په ښه نظر وګورئ او هیله من ژوند وکړئ، څو مو پر ماشومانو ښه اغېز ولري. د بېلګې په ډول، په ډېری بحثونو کې مو د خپلو بریاوو او لاسته راوړنو په اړه خبرې وکړئ او یا مو د کوم ملګري او دوست په اړه چې له څه وخت وروسته یې په دفتر او یا کوم بل ځای کې ښه پرمختګ کړی، خبرې وکړئ.

د دې ترڅنګ مو په کور کې د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې هلیه من او خوشاله کوونکي وي. د بېلګې په ډول، ګل رسمونه هغه لوبه ده چې د ماښام پر مهال یې کول د کورنۍ ټول غړي مصروف او په دې لوبه کې برخې اخیستو ته هڅوي. د دې لوبې پر مهال د کورنۍ هر غړی هڅه کوي چې ښه ګل رسم کړي، له لوبې وروسته او ان د شپې په خوب کې هم په دې اړه فکر کوي. هر یو دا هڅه کوي چې ښه ګل رسم او تر نورو مخکې شي چې دا د یوې ښې کورنۍ د راتلونکي لپاره یوه ښه لاره ده.

**۲- ماشومانو ته مو مسوولیت وسپارئ!**

ماشومانو ته مو باید مسوولیت وسپارئ او له هغه یې د ترسره کولو تمه وکړئ. کله مو چې ماشومان ډېر کوچني وي، حتی دومره کوچني چې د ښوونځي سن ته هم نه وي رسېدلي، دا وخت هم دوی ته د دوی له وړتیاوو سره برابر مسوولیتونه وسپارئ. دا کار د دې لامل کېږي چې په ماشومانو کې مو د کار کولو حس پیاوړی او د هغه د ترسره کولو لپاره ځان مسوول وګڼي.

د بېلګې په ډول، مخکې له دې چې ماشومان مو د خوب کولو له کوټې راووځي، هغوی ته د خپلې کوټې د پاکولو، د بستر او خوب جامو د ټولولو، د وېښتانو د ږمنځولو او نورو کارونو سپارښتنه وکړئ. کولای شی دا اسانه او ساده کړنې هغوی ته د کاغذ پرمخ هم ولیکئ او هغه په داسې ځایونو کې ځوړندې کړئ چېرته چې دوی ډېر سروکار لري، څو په دې سره هغوی ته د مسوولیت اخیستو جدي احساس ورکړی. له کمې مودې وروسته به ووینی چې ستاسې ماشومان به خپل کارونه په ښه ډول سرته رسوي. هر څومره چې ماشومان دا کارونه ښه سرته ورسوي او د هغه په سرته رسولو ځان مسوول وګڼي، هغومره به ارامه او خوشحاله وي.

خو دې ته هم باید متوجې و اوسئ چې ستاسې ماشومان په کومو وختونو کې کوم کارونه کولای شي. د بېلګې په ډول، دوه کلن ماشوم کولای شي یوازې د لوبو شیان ځای پر ځای کړي. درې کلن ماشوم کولای شي یوازې خپلې ناپاکې جامې د جامو ټولولو په جالۍ کې واچوي، څلور کلن ماشوم کولای شي د ډوډۍ خوړلو ککړ لوښي تر خپله ځایه ورسوي او همدارنګه پنځه کلن او شپږ کلن ماشوم کولای شي خپلې مینځلې جامې له تناب نه را ټولې کړي.

د ماشومانو د عمر کچه او هغوی ته د بېلابېلو مسوولیتونو سپارل ډېر مهم دي. د ارواپوهانو په اند، که ماشومانو ته د کارونو او مسوولیتونو په سپارلو کې د هغوی عمر او د کار اندازه په نظر کې و نه نیول شي، د ماشوم په روزنه ډېر بد تاثیر لري.

**۳- ماشومانو ته مو د تېروتنې منل ور زده کړئ!**

مورږ ټول دا کوښښ کوو چې ماشومان مو له روحي او جسمي خطرونو په امن کې وي. هېڅ یې نه شی منلی چې ستاسې ماشومان د ښوونځي په فوټبال ټیم کې سمه لوبه و نه کړي. دا دې سمې لوبې نه کول تاسې مجبوروي چې هغوی نور له فوټبال کولو څخه راوګرځوی، خو په یاد لرئ که مو داسې وختونو کې ماشومان ونه هڅول او په بیا بیا مو هغه تشویق نه کړل، دا بده خاطره به د هغوی په مغز کې ځای ونیسي او په هېڅ وخت به یې له یاده و نه وځي چې دا یې پر خپل نفس باور لا کمزوری کوي.

د کارونو سم سرته نه رسول یا په وار وار تېروتنې کول، نه باید د دې سبب شي چې ماشوم مو له هغه لوبې او یا کار نه منعه کړی. د تېروتنې منل مو ماشومانو ته ور زده کړئ، پرېږدئ چې هغوی له تاسې جلا یو ساعت په خوب خونه کې تېر کړي. پرېږدئ چې په ژوند کې نوې تجربې وکړي. د بېلګې په ډول، پرېږدئ چې هغوی د ښوونځي د فوټبال ټیم کې لوبه وکړي، په وار وار هلته تېروتنې وکړي او بالاخره بل ځل تاسې ته راشي او وایي چې دا ځل بریالی شوم.

**۴- د هرې پېښې له پېښېدو مخکې اندېښنې مه کوئ!**

مخکې له دې چې له خپل ماشوم څخه مو دفاع وکړی، لږ حوصله وکړئ. په صبر او حوصلې سره کولای شی د خپلو ماشومانو د ستونزو د حل په اړه ښه فکر وکړی. فرض کړئ ستاسې ماشوم ته په ښوونځي کې ټولګیوال وایي (چاغه)! دا وخت تاسې دوه لارې مخکې لری: یوه دا چې د هغه ماشوم د پلار شمېره پیداکړئ او هغه ته یې د ماشوم په اړه شکایت وکړئ. دویمه دا چې خپل ماشوم ته ووایئ چې د هغه په اړه باید څه وکړي. دا دویمه لاره تر ټولو غوره او ښه ده.

ماشوم ته مو ووایئ چې خپل ملګري ته ووایي، زه خو (چاغ) نه یم او که وم هم، یو ملګري ته داسې خبره کول چې هغه پرې خپه کېږي، ښه کار نه دی.

دا ډول چلند ښودل ماشوم ته د هغو پر روحیه ډېر ښه تاثیر لري.

**۵- په خپله خوښه کار کول مو ماشوم ته وښیئ!**

کېدای شي ستاسې ماشوم د یو کار له سرته رسولو وډار شي او ځان کمزوری وګڼي. د بېلګې په ډول، وایي زه په ریاضي کې ټنبل یم، زه د فوټبال لوبه نه شم کولای، زه دا... نه شم کولای.

دغه وخت د مور او پلار ډاډ ماشوم ته ډېر مهم دی او ډېر زیات تاثیر د ماشوم پر روحیه او کار کولو لري. هڅه وکړئ چې د ماشومانو روحیه مو د هغوی د نیمګړتیاوو په اړه پیاوړې کړئ.

د دې لپاره چې د ماشومانو روحیه مو پیاوړې کړئ، باید له مثبت انګېزه لرونکو خبرو څخه ګټه واخلئ. د بېلګې په ډول، هغوی ته ووایئ چې لومړیو کې هر څوک تېروتنې کوي، هېڅوک له عیب او نمیګړتیا خالي نه دي، ټول ماشومان لومړیو کې ستاسې په څېر تېروتنې کوي، ته به وروسته ډېر پیاوړی شې، کوښښ وکړه چې تر ټولو مخکې شې.

دا ډول جملې به ستاسې ماشومان لا پیاوړي او پر ځان باوري کړي.

**٦- ښې شېبې مو له یاده مه باسئ!**

له ماشومانو سره مو په چکر لاړ شئ، د هغوی د خوښې خواړه ورته را وغواړئ، هغوی ته ووایئ چې د ځان لپاره نوي ملګري پیداکړي، د خپلوانو او ملګرو په خوښیو کې یې ګډون کولو ته وهڅوئ، په وار وار د هغو پېښو په اړه ورسره خبرې وکړئ چې دوی پکې بریالي شوي دي.

# سناتوران: د سولې مذاکره کوونکی پلاوی نمایشي دی او په دې برخه کې تجربه نه لري

د مشرانو جرګې یوشمېر غړي پر حکومت نیوکه کوي چې د سولې د مذاکره کوونکي پلاوي په جوړښت کې د دوی نظر نه دی غوښتل شوی.

د دې جرګې یوشمېر غړي په داسې حال کې د سولې د مذاکره کوونکي پلاوي په جوړښت نیوکه کوي چې افغان حکومت یوه اونۍ وړاندې له وسله والو طالبانو سره د سولې د خبرو د پیل په خاطر ۱۲ کسیز پلاوی اعلان کړ.

دوی دغه پلاوی نمایشي ګڼي او وایي چې د سولې مذاکره کوونکی پلاوی په یاده برخه کې هېڅ ډول تجربه نه لري.

د دغو سناتورانو له ډلې نادر بلوڅ وایي، حکومت په دې اړه له ملي شورا په ځانګړي ډول مشرانو جرګې سره هېڅ ډول مشوره نه ده کړې.

نوموړي په دې اړه ازادي راډیو ته وویل: «د افغانستان د مشرانو جرګې غړي په دې اړه خپلې جدي اندېښنې لري؛ ځکه کوم ۱۲ کسیز پلاوی چې د سولې د مذاکراتو لپاره ټاکل شوی، هېڅ ډول تجربه نه لري او دا د ولسمشر بې اعتمادي ښیي چې پرته له یوې مشخصې کړۍ د افغانستان په ملت او د سولې عالي شورا باور لري. که داسې وکړي، نو ګټوره پایله به ونه لري.»

تر دې وړاندې د ولسي جرګې غړو او د مدني ټولنې فعالانو هم ویلي وو چې د حکومت له لوري د مذاکره کوونکي پلاوي د ګومارلو په تړاو باید ورسره مشورې وشي او د سولې په خبرو کې ټول افغانان ونډه ولري.

د سولې په عالي شورا کې هم یوې سرچینې ازادي راډیو ته ویلي، حکومت له دوی سره هم د پلاوي د ترکیب په تړاو مشوره نه ده کړې.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر محمد اشرف غني تر دې وړاندې ویلي وو چې د سولې په اړه هر ګام چې اخیستل کېږي، د مشورې پر بنسټ به وي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسمشر مرستیال ویاند شاه حسین مرتضوي د یکشنبې په ورځ په یوه خبري غونډه کې د ۱۲ کسیز پلاوي د اعلان په اړه د خبریالانو د پوښتنو په ځواب کې وویل: «د قانون پر اساس د سولې او جګړې صلاحیت د ولسمشر او حکومت دی او د سولې د مذاکراتو طرف هم حکومت دی، د سولې عالي شورا او کومې هڅې چې ښاغلي خلیلزاد او امریکا کړې، ټول تسهیل کوونکی رول لري».

خو د مشرانو جرګې غړي ټینګار کوي، که ارګ یوازې د خپلې خوښې کسان له وسله والو طالبانو سره د خبرو لپاره ټاکي، دا به هېڅ ډول مثبته نتیجه ونه لري.

# دفاع وزارت: د اردو ۲۸۰ لوړپوړي افسران تر عدلي تعقیب لاندې دي

دفاع وزارت وایي، په تېرو څلورو کلونو کې له فساد سره د دغه وزارت مبارزه جدي وه او په همدې دلیل یې د جنرالانو په ګډون د اردو سلګونه افسران تر عدلي تعقیب لاندې نیولي دي.

د دغه وزارت ویاند غفور احمد جاوید امریکا غږ ته وویل، د لوړپوړو افسرانو محاکمه دا ښیي چې دفاع وزارت له فساد سره په مبارزه کې ژمن دی.

د هغه په وینا، د اردو دغه افسران په کابل، ننګرهار، بلخ او یوشمېر نورو ولایتونو کې په علني توګه محاکمه شوي دي.

هغه زیاته کړه: «تقریباً د ۲۸۰ تنو دوسیې ترتیب شوي دي، ۷۹ تنه یې د خپلو اعمالو په سزا رسېدلي دي، عدلي او قضایي بهیر تاسو ته معلوم دی چې وخت نیسي، خو په دغه برخه کې موږ ښې لاسته راوړنې لرلې دي، په دغه جمعه کې ډګر جنرال، تورن جنرال، برید جنرال، ډګروال، جګړن، ډګرمن ټول شامل دي. لومړی ځل دی چې په تېرو څلورو کلونو کې د ډګر جنرال په کچه محاکمه کېږي.»

دا په داسې حال کې ده چې دوه کاله وړاندې د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا سر مفتشي ادراې یا سیګار د افغانستان په اردو کې د خیالي سرتېرو له موجودیته خبر ورکړی و.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري، جواد تیموري او امان الله حنیفي
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۱۳مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر څلورمه | دویم کال | ۲۹۴یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱٤ | ۱٥ | ۱۹ | ۱۱ | ۲۳ | ۱۹ |
| ۱- | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲٦ | لمر ختل ۰٦:٤۳ | ماسپښین ۱۲:۱۱ | مازیگر ۰٤:۰۲ | ماښام ۰٥:۳۸ | ماخوستن ۰٦:٥۲

## نړۍ



د روسي خبریال د راپور پر سر تر نانډریو وروسته؛

# د بریټانیا دفاع وزیر له خپلو خلکو غوښتي چې د مشکوکو کړنو په اړه چارواکو ته راپور ورکړي

۳

## قطر د روان کال په پای کې له «اوپیک» سازمانه وځي



د قطر د انرژۍ وزیر سعد شریده الکعبي وایي، هېواد به یې د روان کال په پای کې د تېلو د سترو صادروونکو هېوادونو یا «اوپیک» له سازمان څخه ووځي.
کعبي دغه اعلان تېره ورځ په دوحه کې په یوه خبري غونډه کې وکړ او ویې ویل چې دغه اقدام به د ۲۰۱۹ میلادي کال له جنورۍ وروسته عملي شي.
نوموړی وایي، اوپیک ته یې لا د مخه په دې اړه خبر ورکړی دی.
قطر دغه اعلان وروسته له هغې کوي چې سعودي عربستان او روسیې دوې ورځې مخکې وویل، دوی هغه توافق نوی کړی چې له مخې یې د خپلو تېلو تولید محدودوي.
د اوپیک د غړیو هېوادونو او د تېلو د نورو هغو صادروونکو هېوادونو چې د اوپیک غړي نه دي، تر منځ د تېلو د تولید د کمولو په اړه اوسنی تړون د ۲۰۱۸ میلادي کال په اخر کې پای ته رسېږي.
اوپیک سازمان کې دا مهال ۱۵ هېوادونه غړیتوب لري چې په اټکلي توگه د نړۍ د تېلو د تولید ۴۴ سلنه جوړوي او همدارنگه د نړۍ د تېلو ۸۱ سلنه ثابتې شوې زېرمې هم لري.
قطر له اوپیکه په داسې حال کې وځي چې له سعودي عربستان سره یې روابط کړکېچن دي او دغه دواړه هېوادونه په سیمه کې د نفوذ د پراختیا لپاره له یو بل سر په سیالۍ کې دي.

## ایران: د امریکا له اعتراضونو سره سره به د توغندیو ازمویلو ته دوام ورکړو



ایران وایي، د امریکا له اعتراضونو سره سره به د منځني واټن ویشتونکو بالستیک توغندیو ازمویلو ته دوام ورکړي.
د دغه هېواد د وسله والو ځواکونو ویاند ویلي، ایران د توغندیو ازموینې د ځان د دفاع لپاره کوي او دې ازمویلو ته به دوام ورکړي.
د ایران نیمه دولتي خبري اژانس تسنیم د برید جنرال ابوالفضل شکارچي له قوله ویلي، ایران به د متحده ایالتونو له غندنو او خبرداریو سره سره د بالستیک توغندیو جوړولو او ازموینو ته دوام ورکړي.
د شکارچي په وینا، دغه فعالیتونه د ایران د اټومي پروگرام په اړه د خبرو اترو په چوکاټ کې نه دي شامل او د ملي امنیت یوه برخه یې ده، نو ځکه له هېڅ هېواده د اجازې اخیستلو ته اړ نه دي.
شکارچي دا څرگندونې وروسته له هغه کوي چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ایران د منځني واټن ویشتونکو بالستیک توغندیو په ازموینه تورن کړ او ویې ویل چې دا توغندي د سروکو بېلابېل ډولونه وړلای شي.
پامپیو دغه ازموینه د ایران له اټومي موافقې څخه سرغړونه وبلله او ویې غندله.
هغه وویل، د ایران بالستیک توغندي دا وړتیا لري چې د اروپا ځینې برخې او په منځني ختیځ کې هرځای په نښه کړي.
پامپیو همدا راز زیاته کړه چې له ایرانه د توغندیو د خپراوي موارد په زیاتېدو دي او پر دغه هېواد یې غږ وکړ چې دا فعالیتونه بند کړي.
بلخوا د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار د شنبې په ورځ پر ټویټر په یوه پیغام کې وویل، ایران د هغه بالستیک توغندي ازموینه وکړه چې اسرائیل او اروپا په نښه کولای شي.
هغه په خپل پیغام کې خبرداری ورکړ چې دا چلند نور د زغملو وړ نه دی.


## انتقادها از تأخیر در اعلام نتایج نخستین انتخابات ولسی جرگه



نتایج نخستین انتخابات مجلس ۱۸ ولایت تاکنون از سوی کمیسیون مستقل انتخابات اعلام شده است و این نهاد در این ۱۸ ولایت ۷۰ تن را برنده اعلام کرده است که از این میان ۲۱ تن شان زنان استند. این کمیسیون که تا کنون نتایج انتخابات پانزده ولایت را به شمول کابل اعلام نکرده است، می‌گوید که مشکلات در نتایج آرای این ولایت‌ها سبب شدند که نتایج با تأخیر اعلام شود.
سید حفیظ الله هاشمی، عضو کمیسیون مستقل انتخابات می‌گوید که نتایج نخستین انتخابات مجلس نماینده‌گان چهارده ولایت تا اوایل هفتهٔ آینده اعلام خواهند شد و نتایج انتخابات ولایت کابل نیز در اخیر هفتهٔ اینده اعلام خواهد شد.
هاشمی در این باره گفت: «ولایت‌های کلان با جنجال‌هایی که در انتخابات ۲۸ و ۲۹میزان وجود داشتند و این که شکایت‌های متعدد صورت گرفتند. به تفتیش و باز شماری دوباره فرستاده شد. این سبب شد که فورم‌های نتایج آرا نا وقت تر به مرکز برسند. اما حالا خوشبختانه این فورم‌ها از ولایت‌های خرد و بزرگ به کابل رسیده اند. هفته آینده اکثر ولایت‌هایی که مانده؛ یعنی چهارده ولایت تا شروع هفته آینده بخیر خلاص شود و ختم هفتهٔ آینده از کابل هم خلاص شود.» به گفتهٔ نهادهای ناظر بر روند انتخابات، تأخیر در اعلام نتایج زمینه سازی برای تقلب‌های بیشتر در نتایج آرا است.
نعیم اصغری، مسؤل عملیاتی فیفا در این باره بیان داشت: «این که تأخیر شده نتایج ولایت‌های کلان مانند کابل و بلخ و بعضی از ولایت‌های بزرگ، دلیلش این است که در این ولایت‌ها بیشتر فساد وجود داشته. افراد مشخص، تارگیت شده که آنان در لیست نهایی و ابتدایی بیایند. به این دلیل است که پروسه را طویل تر می‌سازند و هرقدر پروسه طویل شود فرصت فساد بیشتر می‌شود.»
در همین حال، شماری از ناظران در روند بازشماری آرا، این روند را شفاف نمی‌دانند.
خواجه عبدالستار صدیقی، یکی از این ناظران اظهار داشت: «بازشماری شفاف نیست؛ یک بار از یک ناحیه بازشماری می‌شود اما یک باره مثلاً صندوق‌های چهار آسیاب را می‌آورند بازشماری می‌کنند».

## ژوند

## له سوځېدلي کس سره لومړنۍ مرستې!



سوځېدل د مختلفو تېړونو لامل گرځي چې ځینې ډولونه یې د بدن د پوستکي ټولې طبقې له منځه وړي. اور او برېښنا د درېیمې درجې سوځېدو تر ټولو ستر لامل گڼل کېږي.
دلته مو له ځینو هغو لومړنیو مرستو سره اشنا کوو چې باید له درېیمې درجې سوځېدو سره ترسره شي:
۱- په ځانگړي ډول کله چې غاړه، مخ او یا هم د خولې شاوخوا سوځېدلې او زخمي شوې وي، نو په اور سوځېدلی کس په سمه توگه ساه نه شي اخیستی او یا هم کله د ساه اخیستو ستونزه د لوگي له امله رامنځته کېږي. کوښښ وکړئ چې سوځېدلي کس ته د ساه اخیستو فرصت برابر کړئ.
۲- لوند رخت او یا هم یخې اوبه باید د زخمي شوو برخو د حرارت درجې ټیټولو لپاره استعمال کړئ. د ویلې شوي یخ اوبه د مخ، لاسونو او پښو په ټپونو مه کاروئ.
۳- سوځېدلې برخې له بې مېکروبه رخت، نرۍ، پاک او سپین کتان او یا هم د بالښت پوښ په مرسته پټ کړئ، خو هغه مواد چې په زخم کې نښلي، لکه، مالوچ باید زخم پرې پټ نه شي.
۴- له ځنډ پرته سوځېدلی کس روغتون ته ورسوئ؛ ځکه چې عاجلې روغتیایي پاملرنې ته اړتیا لري.

## انار او خرما د گڼو ناروغیو مخه نیسي



هره ورځ نیم گیلاس د انارو جوس او څو خرماوې خوړل انسان د زړه له ناروغیو ژغوري. په نویو طبي څېړنو کې ویل شوي چې هره ورځ نیم گیلاس د انارو جوس او درې خرماوې خوړل انسان د زړه له ناروغیو او گوزڼ څخه ژغوري.
په څېړنه کې راغلي چې انار او خرما کې انټي اکسایډنټس موجود دي او دا شیان د زړه رگونه له سختوالي ساتي او د زړه د ناروغیو په مخنیوي کې ۳۳ سلنه گټور ثابت شوي. څېړنه زیاتوي، د زړه رگونو کې د وینې بندېدو له امله زړه یا دماغ ته د وینې نه رسېدو له امله انسان پر فلج او د زړه پر ناروغیو اخته کېږي او له دې ناروغیو د ژغورنې لپاره باید د انارو جوس او خرما وخوړل شي. طبي کارپوهان وایي چې د انارو جوس او خرما ۳۳ سلنه د زړه د ناروغیو مخنیوی کوي او همدارنگه د وینې غوړ (کلیسټرول) ۲۸ سلنه راکموي.